# د خدائي خدمتګار کېمپ پس منظر

نورالامین یوسفزے

نن چې په ګرده پښتونخوا کښې اور بل دے، د مودو راهسې د پښتون نسل کُشي روانه ده او د مذهب په نوم بدنصیبي پښتون ته خپل کور او شوے دے او په داسې حال کښې چې د پښتنو سرداره قبیله یوسفزي په خپله خاوره بې وره، بې دره روړیا کوړیا ګرځي، د ځنو نادانانو د لاسه په یویشتمه پېړۍ کښې د پښتون قام تماشه جوړه شوې ده او د دغه حالاتو له کبله زمونږ خپله وینه او مینه زمونږ غاړې له راغلې ده. ځکه چې لاس مات شي نو غاړې له راځي، د دغه بې وسو، بې اوازو، بې کوره پښتنو مرسته او خدمت ته هم خپلو ملا تړلې ده او هم پردو نو د صوابۍ د سیمې مندړ او یوسفزي چې هم د دغه مېلمنو سره ئې وینه شریکه او هم د امن د بابا خدائي خدمتګارۍ ورته په وراثت کښې پاتې شوې ده، بې غرضه خدمت، دقام یو کُول، پوهول او د هغوی د تندي وینې په خپلو لمنو صفا کول د بابا د کاروان نعره هم ده او عقیده هم، ځکه نو هم د دغه کاروان یو زلمي سکندر عرفان ایم پي اې (پي ایف ۳۵) چې دې بدې ورځې ته وکتل او دا ئې هم ولیدل چې په ځنو کېمپونو او ځنو نورو ځایونو کښې د دغه مېلمنو هغه شان خدمت او هر کلے نۀ کېږي ښنګه چې پکار دے، د دغه کېمپونو کار منظم او مربوط هم نۀ دے نو هغۀ د خپلو ځنو خواخوږو په قام مئینو او روښان فکره ملګریو سره د خدمت مېدان ته راودانګل او د بر تګ په نوم ئې سم د لاسه یو تنظیم ساز کړو. د کوم منشور چې خدمت، امنیت او محبت دے. د دې کاروان مشري خو دغه زلمے کوي خو په حقیقت کښې د دې کاروان هر غړے د امن او خدمت په جذبه ماموره دے. دوي په دې پوهه هم دي او خپل دې مرام ته چمتو هم دي، چې د خپلو دې بې ارزه او بې وسه وروڼو خدمت د دوي ابادي او د دوي آرام او سکون تش خدمت نۀ عبادت هم دے. هم د خدمت ګارۍ دغه سپېڅلي جذبې لاندې د "برتګ" تابیا کړې شوه چې د دغه بې کوره شوو وروڼو، خوېندو او بچو خدمت په منظم انداز وکړے شي. د دوي دپاره د دوي د ښېګړې دپاره عقل شریک کړے شي او په شریکه د دوي د روڼ سبا، د دوي د اباد کارۍ، د دوي د علمي او مادي ترقۍ او پرمختګ دپاره یوه کوټلې لاره وټاکلې شي، یو داسې عمل پیل کړے شي چې هم پکښې د دې هنګامي مسئلې دپاره هنګامي قدمونه پورته کړے شي او هم ورو ورو په مزه مزه د ګرځې پښتونخوا ټول زلمي او مشران کُونجي ورکړي او د خدائي خدمتګارۍ په جذبه دې قام ته د مسئلو او کشالو د هوارۍ ادراک او احساس وکړي.

د وړومبني قدم په توګه د دغه حادثې په نتیجه کښې سم دلاسه د "برتګ" زلمو د خپل مشر سکندر عرفان په مشرۍ کښې په امبار کلي کښې په یوولسمه مۍ ۲۰۰۹ کښې په ګورنمنټ ایلیمنټري کالج کښې د سوات او بونېر نه د راغلو مېلمنو دپاره د استوګنې او خوراک ښناک د یو مثالي کېمپ جوړولو تابیا وکړه، ځکه چې په دغه بې سروسامانۍ کښې د دغه وروڼو راتګ او بیا په ځنو

کېمپونو کښې په غېر منظم اندراج د دوي استوګنې نه کومه لويه تاريخي الميه وزېږولې شوه نو "برتګ" دا سګوټه فېصله وکړه چې هم دے په دې کار خبر کښې خپله برخه واچوي او چې کومې کړمې او کمې ښکاري د دې اصلاح دې په خپل عمل وکړي او دغه سبب ؤ چې "برتګ" خدائي خدمتګار کېمپ ساز کړو. زمونږ وژن دا ؤ چې دا کېمپ دې يو مثال وي، د استوګنې نه واخله تر خوراک، څښاک، طبي امداد، نفسياتي علاج او عزيزولۍ پورې هره برخه دې ښه بشپړه وي او دا د لوئے الله کرم دے چې نن خلق زمونږ کېمپ ته وي، آئي، پي کېمپ وائي. مونږ د خدائے پاک شکر ګزار يو چې دغې خپلو عزيزانو او نرانو مېلمنو له مو عزت او درناوے ورکړے شو. نن زمونږ د برتګ غړي په دې کېمپ کښې د ۱۵ نه ۱۸ ګېنټو پورې کار او خدمت کوي. په خپل لاس خپلو ورونو، خوېندو او بچو ته د ضرورت هر څيز رسوي او د دې هر څۀ مخې ته اخلاص، اتفاق، امنيت او آګهي ده، ځکه چې دې قام ته هم د دې خبرو ضرورت دے.

زمونږ دا هم وژن دے چې کله امن راشي او زمونږ دا ورونه او خوېندې خپلې سيمې ته پستنه لاړ شي نو هلته به هم "برتګ" په منظم انداز کښې د دوي د دوباره ابادۍ، آګهۍ او امنيت دپاره کار کوي.

مونږ ته د پوهې او علم ضرورت دے او دا کار به برتګ کوي چې بيا څوک شاعر په دې وېنا مجبور نۀ شي:

زما قام په قامونو کښې غمے دے
خو د عقل پکښې لږ شانې کمے دے
د اخلاص نه ئې وطن رڼا رڼا دے
جهالت پرې را خور کړے ماښامے دے

تر اوسه د "برتګ" د سپوري لاندې ورکړې شوې سهولتونه:

کله چې د "برتګ" زلمي دې عمارت ته راغلل کوم کښې چې کېمپ جوړ دے نو دا پراخه او لوئے عمارت تش په نوم اباد ؤ، نۀ پکښې بجلي وه نۀ اوبۀ او نۀ پکښې د انسان د اوسېدو شان ؤ. زمونږ زلمو په دوؤ ورځو کښې د عمارت شپږ شلې کمرې او ورسره هالونه او برانډې سره د لانونو په لېونۍ جذبه صفا کړې. د دې صفايۍ، د بجلۍ او اوبو انتظام او زيبائش باندې شل لکه روپۍ ولګېدې او دغه شان دا عمارت د اوسېدو جوګه شو. نن چې دا عمارت لکه د ناوې سمبال کړے ښکاري نو په دې کښې د "برتګ" د زلميو د مينې او خوبۍ رنګ دے. کله چې دې ته مېلمانۀ (متاثرين) راغلل نو د دغه وخت نه تر دې دمه مونږ د خپلو ملګريو، د باچا خان ټرسټ د مشرانو او د ګڼ شمېر نورو زړۀ سواندو او خواخوږو په مرسته خپلو مېلمنو (متاثرينو) له دا سهولتونه ورکړي دي.

۱- ورومبے خو دې مېلمنو ته ښې هواداري، ښې روښانه او په ټولو بنيادي ضرورتونو ماموره د استوګنې کمرې ورکړې شوې، چې په هره کمره کښې پکي هم لګېدلي دي، ورسره تړلي غسل خانه (واش روم) هم شته او په هره کمره کښې د اوسېدونکو دپاره تولاياني، څادرونه، بالښتونه، د اوبو کولرې او د پخلي سامان هم موجود دے.

۲- دغه کمرې لکه د هاسټل په بلاکونو کښې وېشلې شوې دي او په هر يو بلاک کښې يو د يخو اوبو برقي کولر او ورسره يو غټ کمرشل تنور دے خو دغه تنور دوي ته مفتې ډوډۍ پخوي، ډوډۍ د هاغه اوړو نه پخېږي کوم چې ورله کېمپ مفت ورکوي.

۳- خوراک څښاک: کله چې مېلمانهٔ راغلل نو وړومبې درې ورځې ورله تیاره ډوډۍ ورکړې شوه. تر دې چې نهٔ سوه کسانو له به ناشته هم مونږ د زېدي نه د خپلو کورونو نه راوړه خو وروستو بیا ورله مونږ د ګېس د نغرو او تنورونو تابیا وکړه، نو ورسره مو ورله اوچ خوراک لکه اوړهٔ، وریژې، دالونه، غوړي او نور ضروري سامان ورکړو چې لا تر اوسه دا عمل جاري دے.

٤- دارو درمل: په کېمپ کښې یو لوئے هسپتال هم ساز کړے شوے دے چې پکښې څلېریشت ګنټې ډاکټر L.H.V او نور سټاف موجود وي، هر قسم داروګان په کېمپ کښې شته چې دوي (مېلمنو) ته مفت ورکولے شي، کهٔ چرته یو مریض داسې وي چې دلته ئې کېمپ کښې علاج ممکن نهٔ وي نو هغه هسپتال ته وړلے شي او د هغهٔ د وړلو او علاج خرچه په کېمپ وي.

دلته د پیو د ماشومانو پالنه هم کولے شي او د دوي ویکسینیشن هم شوے دے.

٥- حجره: حجره زمونږ د ثقافت، ناستې پاستې، ګپ شپ او د زړهٔ د براس ایستو مرکز هم دے او د جرګو مرکو ځائے هم، ځکه د برتګ ملګریو په خدائي خدمتګار کېمپ کښې یوه حجره هم جوړه کړې ده. دې حجره کښې هر ماښام مېلمانهٔ او کوربانهٔ کښېني او ګپونه لګوي او د زړهٔ دړدونه شریکوي.

٦- د تعلیم سهولتونه: په کېمپ کښې یو معیاري هائي سکول دے چې پرائمري او مډل حصه هم لري، دې سکول کښې ډېر تجربه کار استاذان او استاذانې درس ورکوي. په مېلمنو کښې هم ځنې اعلي تعلیمیافته کسان په دې سکول کښې استاذان دي.

په سکول کښې دا سهولتونه بچو ته حاصل دي.

(۱)- سکول بېګ (۲)- بوټان (۳) کتابونه، کاپیانې او قلم وغېره (٤) د ناستې دپاره درۍ او د لیکلو بورډونه (د سکول په چلولو کښې اداري سره باچا خان ایجوکېشن فاؤنډېشن هم په خلاص مټ مرسته کوي).

۷- ووکېشنل سنټر: د سوات خلق د لاسو په هنر کښې هم وړاندې دي او دا شوق هم لري نو ځکه "برتګ" د جینکو او هلکانو دپاره جدا جدا ووکېشنل سنټرونه پرانستي دي، دغه زلمو او جینکو له د ورځې پینځویشت روپۍ وظیفه هم ورکولے شي، استاذانو له هم تنخوا ورکولې شي، زلمو ته د بجلۍ، پمپونو سمولو او سینېټرۍ کار ښودلے شي او جینکو ته د ګلونو، غاړو او کشیده کارۍ تربیت ورکولے شي. په دې امید چې وروستو به ئې په ژوند کښې پکار راشي.

په دغه دواړو ادارو کښې څلور سوه هلکان او جینکۍ هنرونه زده کوي.

۸- د لوبو مېدان: په کېمپ کښې د زلمیو دپاره یو لوئے او پراخه مېدان موجود دے. اداره دغه زلمیو ته د دوي د مرضۍ د لوبو سامان لکه د کرکټ، فټ بال او والي بال سهولت ورکوي او په کورنو (Indoor) لوبو کښې د کېرم بورډ وغېره سهولت هم ورکولے شي.

د ډېرو ماشومانو دپاره Educational Toys او نور د لوبو سامانونه شته.

۹- د کېمپ حفاظت: په کېمپ کښې د ورځې او شپې دپاره خپل څوکیداران هم شته. دا محافظان اداري په خپل خرڅ ساتلي دي.

د "برتګ" ځوانان او مشران په دې خبره پوهه دي چې هر انسان خپل یو عزت نفس لري او بیا پښتانهٔ خو دې لړ کښې ډېر حساسه دي، ځکه نو دا ټول سهولتونه او ضرورتونه زمونږ رضاکارو دغه مېلمنو ته په ډېر درناوي او عزت ناکه طریقه د هغوي په درشل ورکوي چې د دوي عزت نفس او پښتون هوډ زخمي نهٔ شي.